# Books Written Under Influence of Plato’s Republic

Sajjad Elahi [1], Shakeel Ahmad [2]

**Abstract**: All the research on the evolution of studies in the world today is basically linked with Greece. This is because 500 BC to Christ was the era in which, in Greece, studies originated from Philosophy. Today, the discussion of Literature and Philosophy is not possible without the reference of Greece. Therefore, in this article I've tried to analytically discuss all the books written under the impact of Plato's Republic which have been written till seventeenth century. In this article, Khushal Khan Khattak's Dastaar Nama will also be discussed alongside those books because out of those books Dastaar Nama is unique as it has been written for the training of the leader of Pakhtuns and the man of turban (*Da dastaar saray*) has been shown as an ideal character.

**Keywords**: Plato, Republic, Khushal Khan Khattak

کله چې ما د پي ایچ ډي مقاله لیکله په دې دوران کښې د خوشحال خان خټک کتاب دستارنامه باندې زما دوه بابونه وو دغه بابونو د لیکلو سره مې په ذهن کښې دغه خبره بار بار مخې ته راتله چې د پښتو ځنې لیکوالان دغه تاثر لري چې ګوندې دستارنامه خوشحال خان خټک د کیکاوس د "قابوس نامې" نه سرقه کړه ده ۔ په دې حواله مې د حبیبي صاحب "خوشحال د جهانداری نظریه" هم ولوستو۔ د مغرب کتابونه مې هم ولوستل ۔ د ډاکټر عبدالحکیم شاه خټک سره مې اړیکه ونیوله ۔ هغهٔ راته ووې چې په همدې موضوع باندې لیکل شوي اوهٔ پنځوس کتابونو لسټ ما په خپله پي ایچ ډي مقاله کښې ورکړے دے ۔ د دغه کتاب نه راته استفاده وشوه د دغه کتابونو د متن د لوستو هڅه مې وکړه ۔ دلته زهٔ هغه ټول کتابونو باندې رایه خو نهٔ شم لرلے ځکه چې څهٔ خو دغه نسخې نایابه دي او یا ورکې دي یا ځینو ته زما لا س رسے نشته ۔ البته زهٔ د ځینو کتابونو انتخاب په دا حواله باندې کومه کوم چې لکه د دستارنامې غوندې د سیاسي روزنې د پاره د ملوکانو د پاره لیکلي شوي دي ۔ په دې دوران کښې به دوه نتایج په نظر کښې لرو دا چې دغه کتابونه د افلاطون په اثر کښې لیکل شوي دي ۔ دویم چې دستارنامه هم د دغه اثر د لړۍ د کتابونو برخه دخو د قابوس نامې نقل یا د هغې چربه نهٔ ده ۔ بلکې قابوس نامه په خپله هم د دغه کتابونو تسلسل دے ۔

[1] Pashto Academy, University of Peshawar, Pakistan
[2] Department of Pashto, University of Peshawar, Pakistan

## 1 رياست Republic

په دې لړ کښې تر ټولو اولنے کتاب د افلاطون "رياست" کتاب دے چې په يونان ښار کښې ئې په 375 ق م کښې ليکلے دے ـ په دې کتاب کښې افلاطون د يو رياست خاکه راښکلي ده او بيا ئې د هغې په نظم او ضبط باندې مختلف بابونه ليکلي دي چې پکښې عدل، نظام تعليم او اشتراکي معشيت ستر بيانونه دي ـ د عام اولس سره سره افلاطون په دې کتاب کښې د دغې رياست د باچا چې مونږ ورته فلسفي باچا وايو د روزنې خبره په مکالماتي انداز کښې کړې ده او دغه باچا ئې د يونان د خلقو او خاص طور د ريپبلک ائيډيل ګرځولے دے ـ

> میں: ریاست کا بہترین محافظ ہونے کے لیے جہاں جرات و دلیری، طاقت اور چستی کی ضرورت ہیں وہاں فلسفی ہونالازمی ہیں.[p108,1].

د رياست د بهترين ساتونکي دپاره که د بهادرۍ او مړانې ضرورت دے نوبل خوا د هغهٔ د پاره فلسفي جوړيدل هم لازمي دي۔

هم دغسې د افلاطون کتاب تر دا دمه په لاس موجود اولنے کتاب دے چې په ټوله نړۍ ئې خپل اثر پرېښے دے ـ

## 2 سياسيات Politics

سياسيات د ارسطو کتاب دے کوم چې د فلسفه سياسيات په موضوع تر ټولو زوړ غوره کتاب ګڼلے شي ارسطو چونکې د افلاطون شاګرد و او دغه کتاب ئې د ريپبلک نه لس کلونه پس ليکلے دے د کومې د ليک تايخ چې دا وخت 366 ق م ښودلے کېږي ـ دا کتاب هم د رياست په جوړونه باندې ليکل شوے دے ـ چې مونږ ئې د افلاطون د رياست د تسلسل وړومبۍ کړۍ ګڼلے شو ـ د ارسطو نه پس دغه تسلسل په مشرق کښې باقاعده طور په اسلامي خلافت عباسي دور کښې روان شو ے دے چې کله د يونان علوم عربۍ ته وژباړل شول ـ تاسو وګورئ د افلاطون نه تر اتمې صدۍ عيسوي پورې دغه تسلسل کښې يو کتاب هم نشته خو ورستو د اتمې صدۍ نه دغه تسلسل باقاعده تر اولسمې صدۍ راغلے دے ـ

## 3 الادب الصغير ولادب الكبير (750)ء

دا کتاب ابن مقفع ليکلے دے چې پوره نوم ئې ابو محمد عبدالله روزبه ابن داوديه دے خو مشهور په ابن مقفع باندې دے ـ مقفع د فارس په فېروز اباد ښار کښې په 720ء خواوشاه زېږدلے وۀ او په کال 142 هجري 760عيسوي کښې په بسره ښار کښې وفات شوے دے ـ د دۀ پلار د اموي حکمرانانو سره په سرکاري عهده وۀ ورستو دے د عباسي خليفه سره په خاص عهده مقرر شوے وۀ ـ د ويکيپېډيا او د دۀ د څنو نورو تاليفاتو نه دا معلومېږي چې دۀ څلوېښت کاله

ژوند کړے دے او په دې دومره لنډ ژوند کښې د خپل وخت نوموړے ژباړن، اديب او دانشور پاتې شوے دے چې يو شمېر تاليفات او تصنيفات ئې کړي دي ـ د دۀ کتاب الادب الصغير ولادب الکبير هسې خو دوه وړې رسالې دي خو ولې ورستو دواړو ته يو کتابي شکل ورکړے شوے دے ـ دا کتاب په 1977ء کښې د "دارالبيروت للطباعتۃ النشرِ" له خوا په عربي کښې چاپ دے ـ چې د وړو خلقو او د لويو خلقو په اخلاقو باندې ليکلے شوے دے ـد کتاب په دويمه برخه کښې د سلطان يعنې د باچا د خلقو سره د سلوک او د خلقو د باچا سره د سلوک موضو ع ده چې بنيادي غرض ئې د دربار يا رياست د پاره غوره خليفه سازول دي ـ د الادب الکبير فهرست هم د افلاطون د رياست اثر ته ورته دے کوم چې د دغه رنګ ليکلي شوي کتابونو کښې جوت د ے ـ البته په دې کتاب ځينې ايراني پوهان دا رايه لري چې د دې اخلاقيات د اوستا نه اخستي شوي دي ولې په کتاب د افلاطون رنګ څرګند دے نو ځکه د اوستا خبرې سره زۀ اتفاق نۀ کوم البته کوم باچا يا سلطان چې ښودل کېږي هغه عرب دے او زيات تعليماتو ته ئې اسلامي رنګ ورکړے دے ـلکه ابن مقفع ليکي:

> يعرف ابن المفقع بأنه أخذ كتاب هذا من أقوال المتقدمين وقد قدم له بتوطة في فضل القدمين على العلم وشروط درس والأرض من هذالكتاب. وقسمة علي الامبحثين الأول في السلطان والمصاحبه وما يجمل بكل منهما من الحلال، و في هذالمبحث بابان الاول فی اداب السلطان الثاني فی الصحبتة السلطان. أما المبحث الثاني فقد خصه بالاصدقاء، وحسن اختيار الصديق، وحسن معاملة، وكل ماله علاقة بالأصدقاء. [2, p6]

ابن المقفع اعتراف کوي بې شکه چې دا ليکلي شوي اقوال مونږه د زړو نسخو نه اخذ کړي دي او په تمهيد سره مو پېش کړي دي ـ د دې کتاب مقصد د علم ښودنه ده او د هغې د پاره د بنيادي اغراضو په اړه ليک دے، په دوه بابونو باندې تقسيم شوے دے چې پکښې د باچا او د هغۀ د ملګرو په اجمالي ژوند اسان او په تفصيل سره بحث شوے دے ـ په اولني باب کښې د باچا اداب بيان شوي دي ـ په دويم باب کښې د باچا سره په ناسته پاسته باندې بيان دے ـ دا دويم بحث ډېر په تحقيق سره بيان شوے دے چې پکښې د ښۀ ملګرو سره راشه درشه او د هغوي انتخاب کول دي.

## 4 سيات الملوک (222 هجري)

دا کتاب ابودلف القاسم بن عيسي بن معقل بن ادريس العجلي ليکلے دے ـ ابودلف د عباسي حکومت د خليفه هارون الرشيد په دور کښې د هغۀ سپه سالار پاتې شوے دے ـ وروستو چې

د هارون الرشید د زامنو مامون الرشید او امین الرشید تر مېنځه د اقتدار له پاره شخړه ونښته نو ابودلف د مامون په طرفدارو کښې ودرېدو او اخر چې د مامون الرشید حکومت راغے نو ابودلف ته ئې د جبل ښار ګورنري هم ورکړه چې وروستو په "225 هجري او840" [3] عیسوي کښې وفات دے ۔ ابودلف یو ښۀ شاعر ادیب سره سره جنګجو سپه سالار او سیاست پوهه وۀ ۔ یو شمېر کتابونه ئې لیکلي دي چې پکښې هم دا کتاب سیات الملوک هم شامل دے ۔ د ډاکټر عبدالحکیم شاه خټک تر مخه "دا کتاب په 222هجري" [3, p41] کښې لیکل شوے دے ۔

د دې کتاب په متن څکه خبره نۀ شي کېدے چې په ویکیپیډیا کښې صرف د نوم تر حده د دې ذکر د ابودلف په تالیفاتو یا تصنیفاتو کښې موجود دے ۔ البته د قیاس تر مخه دا خبره کول مهمه ده چې دا کتاب چونکې په عباسي دوره کښې لیکل شوے دے نو ضرور اثر به ئې د افلاطون د ریاست کتاب نه اخستے وي خو د ابودلف خپله تجربه او عباسي درباري شان او شوکت نه پکښې استفاده شوې وي۔

## 5 تحفته الملوک

دا کتاب د ویکیپیډیا او د ایران د ارکایوز تر مخه ابوالحسن علي بن ربن طبري له خوا لیکلے شوے دے خو تر دا دمه په لاس نۀ دے راغلے ۔ ولې چې د علي بن ربن ډېر مواد ورک دي ۔ علي بن ربن د 810ء نه تر 870ء پورې ژوند کړے دے او دے هم په عباسي دوره کښې په دربار کښې نوکر وۀ ۔ ترکومه چې د کتاب د نوم خبره ده واضحه ده چې دا کتاب هم د دغې لړۍ کتاب دے کوم چې په سیاست یا د باچاهانو په کردارسازۍ لیکل شوي وي ۔

## 6 سیاست نامه

دا کتاب نظام الملک طوسي د سلجوقیانو په دورا کښې په فارسي ژبه کښې لیکلے دے ۔ چې په عربۍ کښې په سېرلملوک نامه هم مشهور دے ۔ نظام الملک د خپل وخت سائنسدان، لیکوال او سیاست پوهه سړے وۀ چې په سلجوقي دربار کښې ورته د خپل ذهانت له عمله د ستر وزارت څوکۍ هم ورکړې شوې وه نظام الملک په 1018ء کښې په ایران کښې زېږدلے او 1092ء کښې وفات شوے دے ۔ دا کتاب په مختلفو ژبو کښې چاپ دے چې د اردو ژباړه ئې شاه حسن عطاء کړې ده کومه چې نفیس اکېډمي کراچي پاکستان نه په کال 1954 کښې چاپ ده ۔ د کتاب د ابواب بندۍ متعلق "محمد مغربي" چاته چې دغه مسوده نظام الملک د بغداد په سفر کښې حواله کړې وه لیکي چې :

'ابتدا میں نظام الملک نے اس کتاب کے صرف چالیس ابواب لکھے تھے بعد میں اس میں گیارہ ابواب کا اضافہ کیا۔' [p9, 4].

[3] http://en.m.wikipedia.org/wiki/ab-Dulaf-al-jili

په شروع کښې نظام الملک د دې کتاب څلوېښت بابونه ليکلي وو وروستو ئې پکښې د يولس بابونو اضافه وکړه ـ
که چېرې د کتاب دغه څلوېښت بابونه په نظر کښې وساتلے شي نو داسې لګي لکه چې ورپسې بل چا اضافه کړې وي البته دا کتاب خالص په سياست ليکلے شوے دے چې زيات پکښې د دربار د چلولو د پاره اصول غوره شوي دي دغه اصول په اسلامي شرعي اصولو باندې راجوړ دي البته د نظام الملک تر مخه باچا د خداے د غاړې ټاکلے شوے پېدا کېږي ـ ځکه نو د هغهٔ اعمال د مخکښې نه ليکل شوي وي ـ او دې کتاب کښې لکه د نورو کتابونو د باچا يا سلطان په تربيت خاص څهٔ نشته بلکې ټول بابونه په نظام چلولو باندې ليکلي شوي دي ـ البته لکه د ګلستان سعدي غوندې پکښې د هر باب سره منسلک حکايتونه ليکلي شوي دي ـ

## 7 قابوس نامه

دا کتاب امير کيکاوس بن سکندريه د خپل زوي د پاره ليکلے دے او نامه ئې پرې د خپل نيکه قابوس اېښودې ده چې د ليک کال 412 هجري دے ـ په دې کتاب کښې هم څلوېښت بابونه دي چې د نصيحت په توګه پکښې کيکاوس خپل زوي ته ګويا دے او د ژوند سره منسلک شعبو باندې ورته د عبور حاصلولو تلقين کوي ـ د دې کتاب فهرست او د دستارنامې فهرست کښې ډېر مواد سره ترون لري خو ولې دننه چې د متن خبره ده نو په متن کښې ئې ډېر واضحه فرق دے البته دغه مطالعه بل وخت د دې په تقابلي جائزه کښې کېدلے شي ـ

## 8 باچا The prince

دا کتاب په اټاليه کښې په 1513ء کښې نيکولو مېکاولي ليکلے دے ـ مېکاولي په 1469ء کښې د فلورنس په ښار کښې پېدا شوے وهٔ۔ پلار ئې د خپل وخت ستر وکيل وهٔ چې د هغې په وجه د مېکاولي رجحان د تعليم سره سره سياست ته ګرځېدلے وهٔ۔ ورستو د بهرنو چارو د پاره د اټالېې سفير مقرر شوے و د کومې په وجه چې ئې د مختلف ملکونو سفرونه کړي وو او د هغې په سياسي حالاتو ئې ژور نظر لرلے وهٔ ـ په سياست باندې د مېکاولې خپل ځانګړي کتابونه شته خو دا اثر دې پرنس ئې تر ټولو مقبول کتاب دے ـ د کتاب د انتساب نه داسې اندازه لګي چې دا کتاب هم د دربار د پاره ليکلے شوے وهٔ، زهٔ ئې دلته د انتساب څو کربښې د مثال په توګه پېش کومه ـ

> To the Magnificent Lorenzo Di Piero De' Medici Those who strive to obtain the good graces of a prince are accustomed to come before him with such things as they hold most precious, or in which they see him take most delight; whence one often sees horses, arms, cloth of gold, precious stones, and similar ornaments presented to princes, worthy of their greatness.Desiring therefore to present myself to your Magnificence with some testimony of my devotion towards you, I have not found

among my possessions anything which I hold more dear than, or value so much as, the knowledge of the actions of great men, acquired by long experience in contemporary affairs, and a continual study of antiquity; which, having reflected upon it with great and prolonged diligence, I now send, digested into a little volume, to your Magnificence.[5]

خلق د باچا د زړهٔ ګټل غواړي د دې د پاره هغوي بادشاه ته هغه څهٔ ډالۍ کوي کوم چې د باچا په نظر کښې د قدر وړ وي او ځکه باچا ته شان لرونکي شيان پېش کېږي چې پکښې اسونه، قيمتي کپړه، وسله او سرهٔ زر شامل وي ـ زما هم دغه خواهش دے چې په خپل خلوص سره د باچا په خدمت کښې حاضر شم خو زهٔ چې په خپل ساز او سامان نظر اچوم نو په دې کښې يو څيز هم زما په نظر کښې قيمتي نشته ـ خو زما زړهٔ غواړي چې داسې علم چې کوم چې د اتلانو د مړانو سر تړلے وي وړاندې کړم ـ دا علم ما د جديد معاملاتو سره د پخوانو تعلق او د قديم معاملاتو د مسلسل مطالعې نتيجه ده ـ د ډېرو ورځو د غور او فکر دا نچوړ يو وړوکے شان کتاب دے چې د باچا په خدمت کښې ئې پېش کومه ـ

او دغسې هم دا کتاب چې فهرست ته ئې ځو نو په غېر شعوري ډول يو تسلسل ګرځي اوس د دې کتاب د فهرست نه تاسو اندازه ولګوئ او د دغه تسلسل د نورو کتابونو فهرستونه وګورئ نو يو شان دي ـ لکه د دې پرنس د پاره مېکاولي کوم اصول غوره کوي د مثال په توګه ئې پېش کوم ـ باب څوارلسم نه تر پينځهٔ ويشتم پورې فهرست څهٔ په دا ډول دے ـ د باچا جنګي فرائض، دوه عادتونه د کومې په وجه چې د باچا يا ستاينه کېږي يا غندنه، د باچا لوے زړهٔ او شومتوب، سنګ دلي او رحمدلي، باچا او د وخت وفاداري، خپل ځان د نفرت او د حقارت نه د لرې ساتلو بيان، قلعې او دا قسمه نور شيان جوړول، باچا به نوموړے څنګه ګرځي، د باچا منونکي، د چاپلوسانو څخه دې ځان ساتي، د اټاليې شاهانو خپل حکومت ولې له لاسه ورکړو او په انساني معاملاتو کښې د قسمت څومره لاس دے ـ

# 9 دستار نامه

د دې نه پس خوشحال دستارنامه ليکلې ده ـ د دستارنامې د ليکلو په وخت خوشحال د رنتنبور په قلعه کښې قېد وهٔ چې داسې کوم کتابونه ورسره نهٔ وو ـ خو دلته چې زهٔ خپله خبره کوم نو هغه هم دا ده چې خوشحال په دغه حواله کافي مطالعه کړې وه ځکه چې يو خو په دستارنامه کښې د قران او حديث نه استفاده ده ـ بل زهٔ چې کومه خبره سپينوم هغه دا چې په دستارنامه کښې خوشحال ځاے په ځاے د افلاطون حواله ورکوي ـ ځکه نودا خبره سپينېږي چې خوشحال به د افلاطون رياست کتاب د عربۍ د لارې لوستے وي ـ دغسې په دې موضوع به ئې د عربي دغه ځينې نور کتابونه هم لوستلي وي کوم چې د دستارنامې د متن نه څرګند دي ـ لکه د موسيقۍ د هنر په حقله خوشال وائي

> يعنې سرود، ساز او نغمه دا علم عميق دے لکه د شعر هسې بحور او عروض لري شپږ ئې بحره دي ـ شپږ شپږ نغمې دي، اختراع د افلاطون دے، نظم هم اختراع د افلاطون دے مقابل ئې يو د بله اختراع کړے دے ... امير خسرو د دهلي په دواړه فنه کښې استاد تېر شوے دے.[3, p249]

د دې هر څۀ نه پس چې د دستارنامې اخري جاج اخستل کېږي نو دا داسې هم لګي لکه چې دستار نامه د دغې لړۍ تر ټولو ورستی کتاب وي ـ په دستار نامه کښې خوشحال د پښتون ائډيل سردار تصور وړاندې کړے دے کوم چې د قام سلطان يعنې باچا هم ګرځي ـ البته د ټولو کتابونو تسلسل که زۀ د مثال په توګه ورکومه نو داسې به ووايم چې په يونان کښې افلاطون په اول ځل د کور يعنې د رياست تصور وړاندې کړے وۀ او دغه تصور په هر رياست کښې هر چا د خپل چاپېرچل مطابق وراندې کړو داسې لکه قابوس نامه، داسې لکه دې پرنس او داسې لکه دستارنامه ـ د ستارنامې متعلق علامه عبدالحئ حبيبي صاحب ليکي چې :

> نو د خوشحال د جهاندارۍ نظريه د ائډيال دستار بند او مشر د پاره يو مروجه او مرکبه مفکوره ده چې د پښتونولۍ ، اسلام او انساني اخلاقو پر اساس د يو متعدد په ډول دملوک الطوايف د کوم معتدل نظام له پاره جوړه شوې ده.[6, p39]

ځکه نو دلته دوه خبرې په ډاګه دي يوه دا چې ستارنامه د يوټوپيائي کتابونو تسلسل چې خپلې ځانګړنې لري او دوېمه دا چې دا هر ګز د قابوس نامې چربه نۀ ده ـ البته پورته څو کتابونه د ډاکټر عبدالحکيم شاه د مقالې هغه لسټ نه نقل کؤم کوم چې زما په نظر کښې د افلاطون د رياست کتاب په اثر کښې ليکلي شوي دي ـ

- سياسيات، ارسطو، ۳۲۲ قبل مسيح
- سېرالملوک، عبدالله بن مفقع ۱۴۳ هجري
- سياست الملوک، ابودلف العجلي، ۲۲۲ هجري
- تحفه الملوک،علي بن ربن، ۲۴۷هجري
- اداب صحبت الملوک، ۲۵۵ هجري
- السلطان، ابو عمر بن شبه، ۲۲۶ هجري
- تحفه الوزراء، عبدالله بن احمد البلخي، ۳۱۷ هجري
- اداب السلطان، احمد بن سهل البلخي، ۳۲۲
- السلطان، ابن بابويه القنی، ۳۸۱ هجري

- قابوس نامه ، کیکاوس، ۴۱۲ هجري
- اداب الملوک، ابو منصور، ۴۴۹ هجري،
- اداب الملوک، جلال الدین سیوطي،۹۱۱ هجري
- The prince، مېکاولي، ۹۱۹ هجري
- دستارنامه ۱۰۷۴ هجري

دلته مونږ ه دوه نتیجو ته ورسېدو یو دا چې پورته ښودل شوي کتابونه د افلاطون د کتاب اثر دے ۔ دوېم دا چې دستارنامه هم د دغې تسلسل کړی ده ۔

دلته د دې پیپر د لنډ مخیز جاج نه پس دغه خبره مخ ته راځي چې څنګه کېدې شي چې د دستارنامې د دغه ټولو کتابونو سره ځان له د تقابل جاج واخستے شي؟ او دغسې د جدا جدا د ایم فل او پي ایچ ډي هومره کارونو ته لاره هواروي ۔

## Bibliography


[1] Sabir Hussain, Translation: Reyasat az Aflatoon, Jamea Milleya Dehli, India, 1932

[2] Al Ibn Mufaqa, Al Adab Al Sagheer wal Kabeer, Dar-ul Beirut lil Bana'ata Wal Nasheer, 1977

[3] Abdul Hakim Shah Khattak, Dastarnama Serana aw Samawana, Baheer Matba, Kabul, 2018

[4] Shah Hussain Ata, Translation: Seyasat Nama, Nafees Academy, Karachi, Pakistan, 1955

[5] Niccolò Machiavelli, The Prince, Pub: Antonio Blado, 1532

[6] Abdul Hayi Habibi, Da Khushal da Jehandarai Nazria, Nabigha Khushal, Academy of Sciences, Kabul, Afghanistan, 2018